مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۸/۰۸/۰۸

# د افغانستان کانونه د سوکاله ژوند سرچينې

## دوهمه برخه

داخبره بيا چي ګويا شوروي ماهرانو دا زيرمي په اتيايمو کلونو کي کشف کړيدي ، پر ځای نده . دلته دوې خبري د پام وړ دي چي يوه يې د کان کشف او موندل دي او بله يې په معدن کي د پرتو زيرمو دڅومره والی (کميت) يا مقدار محاسبه ده . زه د اوږدو کلونو د پاره د ټول افغانستان په کچه بيله نفت او ګازو چی د تيلو په ملي موسسې پوري يې اړه درلوده ، د نورو ټولو معدنو د لټولو او د ټول هيواد د جيولوجيکي سروې او هايدروجيولوجيکي چارو مسئول وم چي پدې توګه مي هرڅه تر سترګو لاندي تير شويدي . اتيايم کلونه تر شوروي يرغل (۲۷ / ۱۲ / ۱۹۷۹) وروسته د وطن د ازادۍ پخاطر د جنګ کلونه وه . د ۱۹۸۰ د پيل څخه د عينک د مسو پر معدن باندي له کار نه پرته نور نژدې په ټولو ولايتونو کي د جيولو جيکي نقشې اخيستلو ( نقشه برداري ) او کان پلټني په موخه زمونږ ټول ساحوي کارونه د امنيت د نشتوالي له کبله يو په بل پسې په ټپه و دريدل چي د عينک د معدن د ساتلو خبره زما په نورو ليکنو کي په لړ زيات تفصيل سره ياده شويده . له دې نه پرته د بغلان ولايت په پلخمري کي د کرکر ــ دودکښ د ډبرو سکرو پر کان او د غوري د سمنټو فابريکې د پاره د اومو موادو پر څيړلو باندي هم په ټاکلي کچه کارونه روان وه . د کانو او صنايعو په وزارت کي د کانو او جيولوجي سروې د چارو رياست چي د ۱۹۷۸ کال په پيل کي يې د بيلګي په توګه نژدی ۳۶۰۰ تنه پرسونل درلود ، د اتيايمو کلونو په پای کي دا چي د کار ساحه يې ډيره محدوده شوې وه ، تشکيل يې نژدې نيمي برخي ته را ټيټ شو . پدي شمير کي هم زياته برخه هغه مسلکي کسان و ساتل شوه چي د لسانس ، ماسټرۍ او دوکتورا په کچه يې ديپلومونه درلودل . دا هغه مهال وو چي د کابل پولي تخنيک انستيتوت د اړوندي څانګي ، د کابل پوهنتون د سيانس پوهنځي د جيولوجي څانګي او همدارنګه د شوروي اتحاد د اړوندو تعليمي موسيسو څخه يو په بل پسې محصلان فارغيدل چي بايد په دنده ګمارل شوي وای . دا يو ډير ستونزمن کار وو . زه پدې ښه پوهيدم چي دا مسلکي کسان يوه ستره ذخيروي پانګه ده او دا هيله مي هم له لاسه نه وه ورکړې چي يو وخت به د شوروي يرغلګرو تغر ټول ، په وطن کي به بيا ارامي او امنيت راشي اودغه مسلکي پانګه به په کار واچول شي . له بده مرغه مي دغه خيال او خوب رښتيا نه شو . د مسلکي کادرونو د ساتلو په موخه مي کال په کال د غير مسلکي پرسونل په کميدو سره د مسلکي تشکيل برخه زياتول . د نيکه مرغه ددغه رياست ټول لګښتونه د دولت له انکشافي بودجي له لاري په پام کي نيول شوي وه چي د پلان په وزارت پوري يې اړه درلودله او هلته زيات شمير داسي مسلکي کادرونو کار کاوه چي زما د دغو هلو ځلو په اهميت پوهيدل . ځکه يې نو د بيروکراتيکو جنجالونو سره نه مخامخ کولم . که چيري دا لګښتونه د عادي بودجي د لاري وای ، نو د ماليی وزارت زوړپالو بيروکراتانو به هيڅکله هم زما دغه موخه درک کړې نه وای .

پدې کلونو کي مو د مسلکي کادرونو ډيره برخه ددې د پاره چي بيخي بيکاره پاته نشي ، په هغو کارونو لګيا کول چي ډير اړين نه وو .البته يو د پام وړ شمير کسان د کابل په ولايت کي په هايډروجيولوجيکي ( د ځمکي لاندي اوبو څيړنه ) کارونو ، د ساختماني موادو د معدنو د کميت او کيفيت په څيړلو ، جيوفيزيکي کارونو او په يو لړ ډيرو ګټورو کارونو لکه جيوانجينري څيړنو بوخت وو چی د پلان شوو ودانيو او تاسيساتو د بنسټ د فيزيکي او ميکانيکي ځانګړتياوو څيړني يې سر ته رسولې . دغه د جيو انجينري کارونه ډير اړين وه چي د پروژو جوړولو مرکزي انستيتوت ( پما ) د ادارې په سپارښت تر سره کيدل .

پکارده د ډيري خوښي په څرګندولو سره ووايم چي د معدنو او جيولوجي سروې په رياست کي ډير صميمی او وطنپال پرسونل را ټول شوی وو چي د مشرتابه کړيو او کارکونکو تر منځ په لوړه کچه متقابل احترام او پوهاوی واکمن وو . همکارانو مي ستونزې ښه درک کولي او په حل کي يې د زړه له کومي مرسته راسره کول ، خو د خاد اجنټانو او په ګوندي لومړي سازمان کي يو څو تنو د ګوتو په شمار فرصت طلبو او ناځوانه کسانو پخپلو دسيسه بازيو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

سره بيشميره ستونزي راته زيږولي . همکارانو مي زيات درناوی راته کاوه او د يوې ټينګي کلا په شان رانه چاپير وه چي بايد د زړه د کومي يې مننددوی اوسم .

د لوړو اړينو يادولو وروسته به راشم د پنتاګون راپور او په هيواد کي د معدني زيرمو د څرنګوالي موضوع ته :

په افغانستان کي د شوروي ماهرانو په مټ د جيولوجيکي نقشي اخيستلو ( نقشه برداری ) او کان لټولو ډير کارونه د شپيتمو او اويايمو کلونو په ترڅ کي تر سره شويدي ، نه په اتيايمو کلونو کي ، لکه د پينتاګون په راپور کي چي يې يادوونه شويده . د شورويانو د دغه وخت د تر سره شوو کارونو په سلګونو پنډ پنډ راپورونه او بيشميره اړوند علمي اسناد په انګريزي او روسي ژبو اماده او د کانو او جيولوجي د سروې رياست په ارشيف کي ساتل کيدل چي يوه برخه يې د تنظيمي ناورين پر مهال د اور لمبو و خوړل او د نيکه مرغه زيات شمير يې د وطنپالو انجينرانو او نورو کارکونو په مرسته د ډيرو ستونزو په ګاللو سره و ژغورل شول او په خيرخانه مينه کي د رياست د تخنيکي خدمتونو په څانګه کي چي هغه وخت تر يوې کچي د امن سيمه وه ، په خوندي ځايونو کي ځای پر ځای شول . البته ددې جريان کيسه په زړه پوری او د اوريدو وړ ده ، خو داچي اوږده او ددغي ليکنی د زغم نه بهر ده ، ور څخه تيريږم .

دا خبره اړينه ده او بايد ياده يې کړم چي د شپيتمو او اويايمو کلونو په ترڅ د د راپورونو او علمي اسنادو د ارشيف پرته د لومړي ځل د پاره د افغانستان د ټولو موجودو تيږو د نمونو ارشيف او همدارنګه دوه جيولوجيکي موزيمونه ، يو د کابل په پولي تخنيک انستيتوت کي او بل د مسلخ تر څنګ د کانو او جيولوجي سروې رياست په نوی تعمير کي جوړ شوه چي دا ټول د تنظيمی غوبل پر مهال د مجاهدينو پنامه دورانکارو ډلو لخوا چور او له منځه ولاړل . له دې ټولو نه پرته د راپورونو د ارشيف يوه يوه کاپي په تاشکند او مسکو کي هم ساتل کيده چي تر دا اوسه پوري هلته خوندي پاته دي . داخبره ځکه په ټينګار سره د يادولو وړ بولم چي افغان اوسني چارواکي او د کانو وزارت بايد ور باندي خبر وسي . د اړتيا پر مهال کيدلای شی د راپورونو د ارشيف هغه برخه چي تنظيمي چپاول وهلي ده ، رسماً ترې نه وغواړي . ښايي پدغه خبره باندي له ما او يو څو تنو د ګوتو په شمار کسانو پرته چي په دغه دنده يې کار کړی ، نور څوک نه وي خبر . هيله ده د کانو وزارت د اړتيا پر مهال دغه امکان په پام کي ولري .

د دوهمي برخي پای
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ